

اوونۍ راستنېدنه
هفته نامه عودت

د افغانستان اسلامي امارت
د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت

۸۹ یمه ګڼه،۱۴۰۴ مرغومي:لومړی مخ/ شماره ۸۹ جدی ۱۴۰۴:صفحه


## د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزیر محترم مولوي عبدالکبیر خوست ولایت ته د سفر په ترڅ کې د جهادي مدرسې د دستار بندۍ په غونډه کې ګډون او وینا وکړه

د خوست د جهادي مدرسې د دستاربندۍ په غونډه کې د خوست پر سیمه‌ییزو چارواکو سربېره، د اوبو او انرژۍ وزیر محمد یونس اخندزاده، د کورنیو چارو او عامې روغتیا وزارتونو معینانو، د اسلامي امارت ځینو مسوولینو، علمای کرامو، د پوهنتون استادانو او ګڼ شمېر ولسي خلکو ګډون کړی وو. محترم مولوي عبدالکبیر د خپلې وینا په پیل کې فاضلانو او د جهادي مدرسې مسوولینو ته د فراغت مبارکي وویله او په افغانستان کې یې اوسنی بشپړ امن د اسلامي نظام لاسته راوړنه وبلله.

محترم مولوي عبدالکبیر وویل، چې د اسلامي نظام له بریا سره سم په هېواد کې د اقتصاد او سیاست تر څنګ په علمي ډګر کې ګڼ پرمختګونه شوي دي.

محترم وزیر په افغانستان کې وروستیو پرمختګونو ته په اشارې سره زیاته کړه، چې ځینې لوري د اسلامي امارت د انزوا هڅې کوي؛ خو د اسلامي امارت د منزوي کېدو پر ځای ځینې هېوادونه د انزوا لور ته روان دي او نړۍ پرې بې باوره شوې ده.

محترم وزیر له سیمې او نړۍ سره د اسلامي امارت اړیکې ګټورې او مهمې وبللې او پر وینا یې افغانستان له ګنو هېوادونو سره مثبتې اقتصادي او سیاسي اړیکې لري.

محترم مولوي عبدالکبیر له افغان کډوالو سره پر ناسم چلند نیوکه وکړه او پر کوربه هېوادونو یې غږ وکړ، چې له کډوالو سره نرم چلند وکړي.

د ناستې پر دوام محترم وزیر یادونه وکړه، چې اسلامي امارت په ټولو ولایتونو کې زرګونو اړمنو راستنو شویو کورنیو ته د نغدي او خوراکي مرستو پلان جوړ کړی او ژر به پلي شي .

محترم وزیر په ټولنه کې د مدرسو ارزښت مهم یاد کړ او پر وینا یې چې دیني بنسټونو د تعلیم د رسولو تر څنګ د اشغال په ماتولو کې لویه برخه لرله.





## د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزیر محترم مولوي عبدالکبیر د خوست په شمل دوه منده ولسوالۍ په مقام کې د لويې پکتیا د ځدراڼو له قومي مخورو او علماوو سره وکتل

په دې ناسته کې د خوست، پکتیا او پکتیکا د اتو ولسوالیو د ګڼ شمېر ځدراڼو قومي مخورو او علماوو تر څنګ د خوست د جهادي مدرسې مهتمم شیخ افضل حسین هم ګډون کړی و.

حاضرو مشرانو د کډوالو چارو د وزیر په ورتګ خوښي څرګنده کړه او د اسلامي امارت دا ډول هڅې یې د ولسونو د ستونزو په حل کې مهمې وبللې.

یادو علماوو او قومي مخورو د ولس او حکومت پر نږدې اړیکو په ټېنګار سره د هېواد د پرمختګ لپاره د خلکو یووالی مهم وباله.

د ناستې پر دوام حاضرو مشرانو او علماوو د خپلو وړاندیزونو شریکولو پر مهال له اسلامي امارت څخه، اړمنو ته د مرستې غوښتنه وکړه او دغه راز یې د وچو لرګیو د انتقال اجازه وغوښته او په لرې پرتو سیمو کې یې روغتون ته د اړتیا یادونه وکړه.

ځدران قومي مشر حاجي عبدالرحمن اسلامي امارت ته وړاندیزونه وکړ، چې ولس ته په خپلو ځمکو کې د کار پروسه ساده کړل شي.

محترم مولوي عبدالکبیر د لويې پکتیا د قومونو له همکاریو مننه وکړه او زیاته یې کړه چې د تېرو پینځو لسیزو د ناخوالو ګالل د اسلامي نظام ټینګښت او اشغال ختمولو په موخه و او افغانان په هېواد کې د دین دښمن نه شي زغملي.

محترم وزیر زیاته کړه، چې د اسلامي امارت له بریا وروسته په افغانستان کې په نېکو کارونو کې سیالي کېږي او ناخوالې پای ته رسېدلې دي.

محترم مولوي عبدالکبیر وویل، چې د هېواد د تاریخ روښانه پېر جهادي بریاوې او د ولس یووالی دی او حاضرو علماوو او مشرانو ته یې په خطاب کې څرګنده کړه، چې د اړتیا په صورت کې د جهاد سنګرونه اباد وساتئ.

محترم وزیر د خلکو ستونزو ته په اشارې سره وویل چې اسلامي امارت یې د حل هڅې کوي او د خلکو پرمخ د شکایت او وړاندیزونو دروازې پرانیستې دي.



## وزیر امور مهاجرین در سفرش به ولایت خوست با علما و بزرگان قومی ولسوالی گربز دیدار کرد

محترم مولوی عبدالکبیر وزیر امور مهاجرین و عودت کنندگان در ادامه سفرش به ولایت خوست با علمای دین و بزرگان قومی و لسوالی گربز آن ولایت دیدار کرد.

در این دیدار، بزرگان قومی و علما از همکاری های امارت اسلامی قدردانی کرده افزودند: پس از استقرار نظام اسلامی، بسیاری از مشکلات آنها با کمک دولت حل شده است، آنان مردم خوست را نیروی امارت اسلامی خوانده و از هرگونه همکاری در حفاظت از نظام اسلامی اطمینان دادند.

همچنین، پیشنهاد خود را برای ساخت جاده ( سرک) در منطقه خود با محترم وزیر امور مهاجرین در میان گذاشتند.

محترم مولوی عبدالکبیر از سفرش به خوست ابراز خرسندی کرد و همکاری مردم خوست با امارت اسلامی را ارزشمند توصیف نموده افزود: امارت اسلامی به مردم متکی است و تمام امور دولتی در پرتو شریعت انجام می‌شود.

محترم مولوی عبدالکبیر مسئولیت خود را در قبال خدمت به مردم یادآوری کرده و به جاده‌ای (سرک) که توسط مردم در و لسوالی گربز ساخته می‌شود، کمک مالی نمود.

## وزیر امور مهاجرین در ادامه سفرش به ولایت خوست با نمایندگان هموطنانی که اخیراً به آن ولایت بازگشته‌اند، دیدار و به ده ها خانواده عودت‌کننده کمک نقدی نمود

محترم مولوی عبدالکبیر، وزیر امور مهاجرین و عودت‌کنندگان، در ادامه سفرش به ولایت خوست با نمایندگان هموطنانی که اخیراً به آن ولایت بازگشته‌اند، دیدار و گفتگو نموده و به ده‌ها خانواده‌ی بی‌بضاعت عودت‌کننده آن ولایت کمک نقدی نمود.

در نشستی که از عودت کنندگان دعوت شده در ریاست امور مهاجرین خوست برگزار شده بود، محترم مولوی عبدالکبیر ضمن خیر مقدم به عودت کنندگان افزود: افغان ها برای حفظ دین و استقلال کشور مجبور به مهاجرت شدند و هر افغان عودت کننده شایسته احترام است.

محترم وزیر امور مهاجرین گفت: تمام تلاش خود را برای رسیدگی به مشکلات مهاجرین به کار می‌گیرد و امارت اسلامی وظایف مربوطه را به برخی از وزارتخانه‌ها و ادارات واگذار کرده است تا برای بازگشت‌کنندگان خدمات بهتری ارائه دهند.

محترم مولوی عبدالکبیر توضیح داد که توزیع کمک‌ها به عودت‌کنندگان نیازمند در تمام ولایات آغاز شده است و قرار است به هزاران خانواده کمک‌های نقدی و غذایی توزیع شود.

محترم مولوی عبدالکبیر از نهادهای امدادرسان و افراد خیرخواه درخواست کمک و حمایت از بازگشت کنندگان را نمود.

در پایان، ضمن توزیع کمک‌های نقدی به بازگشت کنندگان حاضر، محترم مولوی عبدالکبیر از ارائه کمک‌های بیشتر در آینده اشاره کرده و در صورت نیاز، از هرگونه همکاری اطمینان دادند.



## د پکتیکا مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ریاست کارکوونکو ته د پلان جوړونې او ارزونې په برخه کې سیمینار وړاندې شو

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د کارکوونکو چارو ریاست په همکارۍ د پکتیکا مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ریاست کارکوونکو ته د پلان جوړونې او ارزونې په برخو کې پینځه ورځنی سیمینار وړاندې شو. دغه سیمینار د کارکوونکو د ظرفیت لوړونې، د ګټورو برنامو پر لاره اچولو، د سمو پروژو پلي کولو او په منظمه توګه د پایلو ارزونې په موخه ورکړل شو، چې په تصمیم نیونه کې په معیاري توګه د اداري پلان جوړونې، اوږدمهاله، تطبیقي، فورم او تګلارې په اړه بشپړ معلومات پکې ورکړل شول.

د یاد ولایت مهاجرینو رییس مولوي حمدالله فاتح دغه سیمینار مثبت وارزاوه او په راتلونکي کې د ورته نورو سیمینارونو غوښتونکی شو.

## د پاکستان له بندخونو تر ۲۰۰ زیات بندیان ازاد او هېواد ته راستانه شول

روانه اونۍ د پاکستان له بندخونو ۲۲۱ تنه افغان مهاجرین ازاد او هېواد ته راستانه شول. د کندهار د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ریاست د سپین بولدک د لېږد امریت د راپور له مخې، یاد کسان له یوې ورځې تر ۲ میاشتو پورې بندیان وو، چې په دغه امریت کې تر ثبت او بشري مرستو تر لاسه کولو وروسته خپلو اصلي سیمو ته ولېږدول شول.

## برای نزدیک به ۵ هزار خانواده ۹ ولایت مدد رسانی صورت گرفت

برای ۴۹۹۵ خانواده بیجاشده، برگشت کننده، آسیب پذیر و جامعه میزبان در ولایات کابل، بلخ، سمنگان، بدخشان کاپیسا، ننگرهار، میدان وردک، پکتیکا و جوزجان، کمک های نقدی، خوراکی و غیر خوراکی در هفته روان توزیع شد.

طبق گزارشات از ولایات، برای ۲۲ خانواده در کابل مبلغ ۳۳۶ هزار و ۶۰۰ افغانی، برای ۱۰۰ خانواده در میدان وردک ۵ تخته کمپل و بسته های پوشاک زمستانی، برای ۳۵۲ خانواده در ننگرهار مبلغ ۵ میلیون ۴۳۸ هزار و ۷۰۰ افغانی، برای ۱۰۰۰ خانواده در کاپیسا ۱۳ قلم مواد خوراکی و غیر خوراکی، برای ۹۵۳ خانواده در پکتیکا ۱۲ قلم مواد خوراکی و غیر خوراکی، برای ۲۰۰۰ خانواده در ولایات جوزجان و بدخشان ۵ قلم مواد خوراکی برای ۵۲۰ خانواده در بلخ مبلغ ۵ میلیون ۳۳۰ هزار افغانی، برای ۴۸ خانواده در سمنگان یک باب خیمه و یک بسته پوشاک زمستانی، کمک نهاد های همکار بود که پس از شناسایی آنان توزیع شد.

